**ليکونکی** : **اندريو کوريکوب ( Andrew corykob).**

منبع اودخپريدونيټه : **ګلوبال ريسرچ «2020-06-22» .**

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# د متحده اياالاتو ټولنيز رسنی ادعاکوي چي «پوتين» دکيڼ اړخو ترهګرو څخه ملاتړ کوي

## *US Media propaganda claiming that Putin supported "Left wing terrorists"*

***د سړي چګړی د دوری اود نن ورځی انتيفا (ضد فاشسيتی غورځنګ) کی د با درمينهوف(د سره لښکر څا نګه ) ډ لی ته مراجعه کول***

***Reference to the Baader Meinhof Group of the cold war Era and today Antifa***



ولاديمير پوتين

د **پو لیتیکو** (politico) شرمونکی «راپور» ادعا کوي چي « **پوتین**» په ختیځ المان کي د **کی جی بي** (KGB) سره دهغه وخت په مها ل د(بادر مینهوف) ډله کی د کینڼ اړخو تروریستی فعا لیتونه په پټه توګه ملاتړ کړي اوحتي تردی حده پوري چی دهغوی دجوړونی یا د تشکیل سا زماندهی یی هم کړي دي . دایوائی او یوائی پروپاګنډ یا تبلیغات دی کوم چی غواړی یا نیت لری چي دهمدی هدف په چوپړکي اوسی. **ترامپ** په تیرو څو کلونوکي دخپل روسي سیا ل سره د (نوی د یتا نت ) د تحرک هڅه دهغه سړی سره په منا فقا نه ډول « ملګرتیا یا تبا نی » ته ورته ده چي اوس دهغه کرکه لرونکی **انتیفا** نومی دپډر خوانده (Godfather) په توګه ښودل کیږي .

## آیا بنی اړخ « پوتین» واقعاً یو کینڼ اړخ تروریست دي ؟

جعلی خبرونه خورا اغیزمن دی ، اوهغه هم کله چي د یولړ حقیقت غیر قا بل انکا ر اود شرمونکی ګما نه زني سره یوځای یا مخلوط وي تر څو چي وکولای شی دا سی اطلاعا تی یا معلوما تی محصول را مینځته کړي چی د متعا صب مخا طب د منلو موجب رابرابرکړی – نو دا دویلو دي چی دغه مورد دقیقاً دپولیتیکو دهغی برخي تبلیغاتی ادعا سره سمون خوري کوم چي ویلی [« پوتین » په مخفیا نه بنی سره د کینڼ اړخو څخه ملاتړ کړي په ختیځ المان کي د **کی جی بی** سره د هغه وخت په مها ل د « **با در – مینهوف** » تر هګریز فعا لیتونه اوحتی چی ممکن ددوی د بریدونو یا دهغوی دحملوپلان اونقشه هم تنظیم کړی وي ] هرڅوک دروسیی د مشرتا به د خد متونو د تاریخچی په هکله کوم چي دخپل لوړ اطلاعا تی سرویس سره کړي پوره معلومات او پوها وی لري ا ما دهغه اطلاعا تی موسسی د کارمند ا نو زیا ت شمیر د دی تصور تر تا ثیر وه چي دهغوی کارونه ډیر بی نظیر او زیات سترې کیدونکی بیروکراتیک دندی وه ، لکه دشوروی حکومت زیات دولتی مواضع اوپوستونه دسړی جګړي په پای کي اوداځکه چي جمهور ریس « پوتین » په سیا سی لحاظ دامریکی د پټ دولت (Deep State) له بی سا ری تحریک سره په مخا لف قطب کی ځای په ځای کوی کوم چي په نهایت کي دروسیګیت (Russiagate) استیضاح دروسیی دغند لو له امله په متحده ایالاتو کی د پا م وړ شمیر خلکو شتون لري چی د «پوتین» په اړه په هر ډول نا وړه چلند باورلری اوداځکه چي دوی فکر کوی چي دا ددی لپا ره کیږي چي **ترا مپ** په تولنه کي بد په نظر راشي .

## بشپړه مها ل بندی :

دا دقیقاً **دپولیتیکو**د **مودیس اوپرندی** [ Modus operandi = چی اغلباً داختصا ر په بڼه

په (M.O) لیکل کیږی دکار یا دکړنو لپاره شخصی عا دت دی چي په لاتینی عبا رت کي دکړنی حا لت یاد شوی دی ...**تفصیل ددی قلم پواسطه** ] دلوبی دسریا ل هماغه اخری توټه یا قطعه دي چي په واقعی مفهوم سره په یو ناڅرګند سرچینی باندی ږده کوی – کوم چي په ناڅاپی بڼی سره د (کامل شیبی ) په منلو سره **د ترامپ** د دوامدار مجد د انتخا با تی مبارزی په وسط کي د له مخکی هد ف د خد مت کولو په نیت دا ډول تصمیم نیول کیږي اوله دی څخه بیا ن داچي د جمهور ریس هڅی اواند ( **د نوی د یتا نت** ) د تحریک لپاره د خپل روسی سیا ل سره دځو تیرو کلونو په اوږدو کي هغه ورته توطیی ته پا تی کیږي چی په منا فقا نه ډول د هغه چا سره په ملګرتیا کي کوم چی اوس دهغه کرکه لرونکی **انتیفا** دپدرخوانده (Godfather) په نوم نومول کیږي ترسره کوی –دا پراخه روایت داچی دموکراتان حتی د **ترامپ** دا نتخا با تو څخه لا د مخه د مخفی دولت (Deep State) تر تاکید لاندی پریوتي وه نو په دي شان هغه دخیا نت کولو مستعد کس دی او هغه هم څه د نا سم اهدافو له وجهی اویا څه په دی دلیل چي هغه د جمهوری ریا ست لپا ره هغه شا ن صلاحت نه لری یعنی چی ظاهراً حتی نه پوهیږي چی هغه ته کوم شی یا څه شی مجاز دی چی با ید ترسره کړي نو دهغه سیا سی د ښمنا ن هغه ته خبرداری ورکړ چی روسیه ته هرډول سوله ایز لاریون په دی پلمه کوي چی مشر یی د ولوید یځ لپاره تر تولو لوی «ګواښ» دي . مګر **ترا مپ** هیڅکله پر دغه موضوع باندی باور نه دی کړي اوپه همدی ډول خپل کړنی ته دوام ورکړ چی له هغه څخه سرغړونه وکړي.

## د ژور یا د مخفی دولت ناهیلی ( مایوسی ) .

نو ژور یا مخفی دولت تر بل هروخت ډ یر بیوزلي اوناهیلی دی چي پر **ترامپ** فشار راوړی چی له «**بوتین**» سره دهمکاری په حکمت یا په اړیکو با ندی غور وکړي . اودا ځکه چی ژوردولت ډاډه دی چي که هغه یعنی **ترامپ** بیا انتخا با ت وګټي نوپه هغه صورت کی هغه به بشپړ درغلی یا سرغړونه وکړي اودا امرکید ی شی وړاند وینه وکړي چي (ترامپ) به خپل دملاحظی زیا ت وخت په شخصی توګه د (نوی دیتا نت ) په راپیدا شوی تحولاتو با ندي چي په «متقا بل جوړ جاړی » لاس پوری کړي ځانګړی کړی اوپه پراخه توګه پرهغو مسا یلو باندي کوم چی نیت لری چی بیا له سره نوی اړیکي رامینځته کړي یو څه زغم وکړي یا ددی موضوعاتو په اړه خپل یوه اندازه وخت ځانګړی کړي ، او هغه هم په دی باورچي امریکا کولی شی په نوی سړه جګړه کي د ( **چین** ) مهارکولو ته« ډیر » پا ملرنه وکړي ، د **انتیفا** په مخکی زیا تیدونکي نفوذ ته په پام کی نیول سره د ژور دولت ( دامریکی مخفی دولت ) داستفادی وړ یا دپکاروړلو احمقا ن به په امریکا کي د تروریستی

ترکیبی جګړه  په انتخاب اود « ترامپ» درونی یا احمقا نه  کرکه  په دی  وخت کی ددی کینې اړخ غیرمتمرکز تروریستی  شبکی ترمینځ  یو څه ځا نګړی منطق  پروت دي  اوهغه داچي کولی شی چی توطیه جوړ کړي .دغه تیوری په دغه حسا س پړاو کي  له دی محتوی څخه برخورداره دی چي« **پوتین** » ددی سازمان پدر خوانده (Godfather) دادعاکړ شوی لاری په ملاتړ  دا په ګوته کوی  چي  « **پوتین** »  په ختیځ المان کي  له **کی جی بی**  سره د د ندی په مها ل  دورته بد نا می  کی کینې اړخ ترهګری ډلی  ملاتړ کړی دي  .

## انتیفا ته په اشا ره کولو سره د ترامپ تینبته :

د **« ترامپ »**  په وړاندي  دژور (مخفی) دولت  له دغه وروستی اطلاعاتی جنګ  څخه هد ف دا دي چی  « **ترامپ** » دی اند یښنی یا فکر کولو ته  اړ کړی  یا یی  وهڅوی  چي « **پوتین**» دهغه  اید یولوژیکي د ښمن دي . لکه همغسی  چي  هغه (**ترامپ**)  په  سمه توګه دوی او ددوی د موکراتو ګوډا ګیا نو په مورد کی نظر لری   . د یا د ونی وړ مطلب دا چي که چیری  لوستونکي  ددی لیکوال  مخکینی  لیکنی  او همداشان دیو میاشتی مخکی  لیکنی دتروریستی ترکیبی جنګ دامریکی  په وړاندی ترعنوان  لیکنی  یا مقالی سره  اشنا یی ونه لری  کوم چی لیکونکی  ددی اخری خارجی سیسا ست د تبلیغا تود په داخلی شرایطو  مورد کی  رڼا اچولی   یا توضیح کړي  کوم چی دلته  دهغه (لیکونکی) خورا د اړونده کا ر لیست موجود دی  چی با ید که چیری  څوک   پوښتني وکړي   چي  ولی «**ژور دولت** »  غواړی په دی ځا نګړي وخت  کي  د «**پوتین** »  اود  **انتیفا**  په څیر  ترهګری  سا زمان  ترمینځ نظریا تی    ، حتی عملیا تی  اړیکي پلي کړي .

June 1 جون: "په امریکا کې میهیم: ماسک وتړل شو ، مولوتوف راوتلی!"

June جون:: "امریکا د ښاري تروریزم څخه د ځان دفاع کول حق لري"

June جون:: "د الټ میډیا تولنه اوسط امریکایان د انتیفا تروریزم ملاتړ کوي."

June جون:: "د متحده ایالاتو له خوا د تروریزم پروړاندې په ملي کچه عملیاتو وروسته څه کیږي؟"

June جون:: "انتیفا غواړي افریقاییان-امریکایان د دوی وژنې ته د ریس جګړه پیل کړي"

June جون:: "په متحده ایالاتو د ترور هایبرډ جنګ د جوړولو په لسیزو کې وځنډول شو"

June جون:: "تاسو کولی شئ د امپریالیزم ضد و اوسئ ، د افریقی - امریکایانو ملاتړ وکړئ ، او د تروریزم سره هم مخالفت وکړئ"

June جون:: "راځئ چې هیڅکله د حقیقت له لاسه ورنکړو چې هیڅ ډول ریس پر توکمپالنې ځانګړې انحصار نه لري"

June 11 جون: "د سیټل چاز د کورنی جګړې لپاره ترکیب دی"

June 11 جون: "د اقتصادي کیftیزم او تولنیز فاشیزم ترکیب د نړی ترټولو نوی خطر دی"

June 15 جون: "اټلانټا: رایشارډ غلط و ، رالف سم و ، او پیښه د نژادپالنې نه وه"

June 20 جون: "په امریکا کې د پولیسو ، نیلي فلو ، او محاسب شوي افراتفري پرضد جګړه"

20 جون: "د لوړ پوړ مجسمې د تاریخي حقایقو د بیا لیکلو لپاره د کلاسیک رنګ انقلاب تکتیک دی .

لکه همغسی چی لیدل کیږي ، دلته یو شمیر دلایل شتون لری چي د«**ترامپ**» مخالفین کیدای شی چی منتظر اووسی او هغه داچي **ترامپ** باید پر (**پوتین** ) با ندي دخند اوړ تور یا تهمت ولګوی چي ګویا (**پوتین**) دغه کینې اړخ تروریستی ګروپ څه په مستقیم بڼی سره دسړی جګړی په وروستی لسیزه کی ملاتړ او یا د هغو تروریستی کړنو یا فعا لیتونو ته سازما ن ورکړی دي . دترکیبی جګړی په اړوند د (**بادر مینهوف**) ګروپ یواځی یوه وړه تولګي مګر د **انتیفا** یو ډیر منظم اوپیژندل شوی مودل یا نسخه ده څکه چي هغو دواړه یعنی هم دسیاسی پراخي ساحي اوهم دایدیلوژیکی اهدا فو د ترلاسه کولو لپا ره مبارزه کوي نو داسی په نظرراځی چی د (**پوتین** ) اړیکي په دی مورد کي سره دهغه چي **پولیتیکو** په بی پروایی سره موضوع په یوه ناڅرګنده منبع پوری تړی نو کا ملاً په اشتباه سره تصور کیږی لکه هغسی چی د نرغویی په مقا بل کي سور بیرق ورپول شی نو ژور دولت په پا یله کي غواړی (**ترامپ** ) وهڅوی چی روسیی مشر خپل دښمنا نو کی وشمیری .

## دهمغاړیتوب (همګرایی) بشپړه توطیه :

لیکوال پخپل یو هایپر لینک ( له حده زیات پیوند) شوی تحلیل کی استدلال کوی : چی چپ اقتصادی همغاړیتوب داجتماعی فاشیسم سره نړی ته یو جدی خطر دی چي په بیړه سره

ډېرګران اوسنونزمن ښکاری چي له هغه څخه انکاروشي کوم چي د(**ترامپ**)د«**ژوردولت** »
د ښمنا ن په وړاندي وينه سره غواړي چي ددی موضوع دګناه اود قصور ډېره ډېر روسيه
اوبيا په رغنده ډول سره پر ( **پوتين**) باندی واچوی . خبره ددی توطيی دروښانه کولو لپاره
نه دي يا چي دلته دسازمانی مشاهدی لپاره کوم جوړجاړی نه دي کوم چي ليکوال دټولنيز
فاشيست مفهومونو لکه د دولت ضد بی ثباتي اهدافو لپاره د نژاد وسله وال کول او
امريکايي واقعی چپ ( left defecto ) اړخ پکا رګمارل په کلکه مطالعه کړی دي مګر
داخامخا مسخره اود خندا وړخبره ده په دی معنی چی ددی اقداماتو ترشا اولسمشر (**پوتين** )
اووسی - پوليتيکو خپله په مستقيم ډول دبا ندی نه راځی اوځه نه وايي ،اما پوليتيکويوائی
ددی امکا نيت په کاروړلو سره خپل خبره رامينځته کوی چی هغه له چا څخه نقل قول کوی
کوم چي هغه وايی چی زه په **ستا سی** (Stasi = د شرقی ا لما ن د امنيت وزارت) کی
**د(پوتين** ) له طرفه هلته په کار وګمارل شم . او هغه داسی وايی چی د(پوتين ) فعا ليتونو
کی يو هم دهغه نقش ديوبد نام نيونازی راينرسونتګ ( Rainer Sonntag) دمد يردستيا روه
چی دکينې اړخ اقتصا دی قوتونو( کمونستانو ، انا رشستا نو ، سوسيا ليستا نو اونورو ) په
واقيعت کي دټولنيز افراطی ښی اړخو ( نژادپرستا نو ) اشخا صو سره همکاری کول
اما نه (پوتين) اونه دهغه دهيواد کوم يوه استاذي د دغه (غير قانونی اتحاديه ) سره اړيکی
نه لرل .

## دسيا سيی تبليغا تو آسا نتيا :

په هرصورت دا د « سيا سی له پلوه آ سا نه » دي چی دروغجنو دا بشپړه غلط دروغ
تبليغ کړی ، ځکه چي دا ادعا په همغه اندازی سره په غلطه بڼی ترسره کوی کوم چي
وايي روسيه [( ددی لپاره چی دمخاطبين باورمندی تر لاسه کړی نو دا دروغ په مکرر
بڼی سره داسی تبليغ کوی چي ټول کارونه دپخوانيي کی جی بی اجنټ يعنی د (پوتين) له
خوا پرمخ وړل کيږي ] د نړی په سرتا سر کي داړو دړو درامينځته کيد و لپا ره په هرج
ومرج لاس پوری کوی اودا اړی د وړی يا ګډوډی يواخي د دي لپا ره چی وشی کړی
ددواړو مخا لفو ډلو باور د خپلو مرستو په کولو سره ترلاسه کړي دهغو دواسله وال کيدو
داستان په شمول د بی اسا سه اتهام لکه چي روسيه په کا ل (2015) کی د مها جرتونو يا
دنړيوال کډوالی د بحران مسول دي ، جعلی اوساختګی خبری چی ګويا روسيه دامريکی
دجمهوری رياست دټولټاکني په مها ل کی دجمهوريخواه اود دموکراتو کانديدانو دانتخاباتو
په روند کی لاس وهلی يا دانتخاباتو څرخ دخپل هدف د ترلاسه کيد و لپا ره څرخولی دي
لکه هغه شان چی عمومی رسنيی داسی تبليغاتو ته لمن وهلی چی ګويا روسيه پخپل دغه

*کړنی سره غواړی چی دا مریکی د خلکو په مینځ کی ویش او بی اتفا قی پراخه کړي او اوس د مید یا دغه تبلیغات دهمغه تبلیغا تو سره ورته دی کوم چي دهغوی په نظر (**پوتین** ) په شخصی توګه په ختیځ المان کي د(کی جی بی ) سره دهغه وخت په جریا ن کي دکینړ اړخ اودښی اړخ ترهګرو سره په ورته وخت کي اړیکی لرل او د هغوی یعنی د کینړ اړخ اقتصادی قوتونو اودتولنیز فاشیزم د قوتونو ترمینځ د همغږی په پلی کولو کی نقش لوبول لکه څنګه چي لیکوال دخپل تحلیل په پیل کی لیکلی وه : چی جعلی خبرونه خورا موثره دی کله چی دیوځه لږ نه انکا رکونکی حقیقت سره د بد ګما ن زنی دروغو سره مخلوط اویوځای کړشی ترڅوچی داسی یواطلاعاتی محصول رامینځته کړی کوم چی هغه اطلاعیه د متعاصب مخا طب د باورموجب رابرابرکړی یعنی چی دوی غواړی چی دمخاطبینو پلوی په دی ډول تبلیغا تو سره د ځا نه کړي.*

## دافکارو پا یلي :

***پولیتیکو*** *په څرګنده ښی سره دی دول دروغ ویلو ته خپل ځان اړ ایستلی دي چی ووایي «* ***پوتین*** *» د ملاتړ تا ریخ لري که چیری په ښکیلو اړخونوکي له ترهګری سره په ښکاره ډول دخیل نه وي ، دروسی ولسمشر پروړاندي دا تکی په یوی نه یوی (سرچینی) سره پوره اړه لري ، چي داعاګا نی یی د تاریخی حقا یقو یوه برخه دي. د دی نظر د ا فشا کولو لپا ره چي (**پوتین**) شاید ددا سی سازما نونو سره ځینی سیوری (پټ) لرونکی اړیکی ولري چی ددوی په نړیواله بدنامی کی وړاندی* ***انتیفا*** *هم دخیل وه اوپه همغه هیواد کي خبره را پورته شو او دا ویل کیږي : چی هیڅکله په دي اړه څه نه وه ویل شوي ترهغه وخته چي ( ترامپ ) دخپل انتخاباتی کمپاین مینځ ته ور ننوتل اود (پوتین) سره دا( نوی دیتا نت) په نیولو کی د بریا لږی نښی څرګند کړي ، دغه «منبع» کیدی شی هغه وخت سم راپورته شی یا رامعلومه شی کله چي دروسیی مشر په لمړی ځل په (2000) کی خپل دفتر ته ورننوځی – مګر هغه په لیواله ډول یی تردی دمه څه کوم تاکلي شی دخپل وندی په اړه څه ونه ویل – لذا دا مسله تولو ته ثابته کړه چی د پولیتیکو راپور دخالص پروپاګند پرته بل څه نه وه اویا بل څه نه دي کوم چی د (**ترامپ**) څخه غواړی چي (**پوتین** ) دخپل ایدیولوژیک دښمن په صفت وپیژنی اودا داسی بریښیی یا چی داسی راښکاري چي هغه په بشپړ ډول د* ***انتیفا*** *د پدرخوانده (Godfather) سره ملګرتیا لري .*

**------------------------- په سلامونو «2020-06-25»**